PRESS INFORMATION

THE EUROPEAN UNION SPECIAL REPRESENTATIVE IN AFGHANISTAN
THE EUROPEAN UNION DELEGATION TO AFGHANISTAN

اروپايي ټولنه د ټولنيزو خصوصي رسنيو د تاسيس او فعاليت د ډول مقرري د اجرايي کولو په خاطر د افغانستان دولت څخه ستاينه کوي

کابل- د 2016 کال د فبروری 9

نن د افغانستان د ټولنيزو رسنيو کميسيون د ټولنيزو خصوصي رسنيو د تاسيس او فعاليت د ډول مقرره په رسمي توګه معرفی کړ.

دغه نوي مقرره د يو لړ مهمو مسايلو لکه قراردادونه، خوندیتوب، بيمه د روغتيايی بيمي په ګدون او تقاعدی په اړه نوي الزامات معرفي کړي ده.

په افغانستان کي د اروپايي ټولنې ځانګړي استازي فرانز مايکل ميلبن وايی: " اروپايي ټولنه د دغي مقرري د اجرايي کولو په خاطر چې د آزادو او منتقدو رسنيو لپاره يو ګام پر مخ دي، ستاينه کوي. افغانستان په سيمه کي د رسنيو يو له ټولو نه مسلکي ټولنه لري. اوس اړتيا ده چې دغه مقرره پلئ شي او مور افغان دولت څخه غواړو چې د دغي مقرري پلي کيدل يقينی کړي."

د رسنيو او د بيان آزدي د هري ټولني بنسټيز حق دي او اروپايي ټولنه ورځخه په کلکه ملاتړ کوي. په تيره لسيزه کي د افغانستان خلک د بيان د آزادئ د يو لوړي کچې څخه ګټه پورته کړي ده. د دغه آزادی ساتنه په افغانستان کي د يو دموکراتيکي ټولني د پراختيا لپاره اړين دي.

د لا ډېرو معلوماتو لپاره:

د اروپايي ټولنې پلاوی
د رسنيو سلاکار
عبدالله يادګاري
ټليفوني شمېره: 548 173 700 (0) 93+
بريښنالیک: abdullah.yadgare@eeas.europa.eu

کيل اندرسن
د رسنيو او عامه اړيکي سلاکار
په افغانستان کي د اروپايي ټولنې ځانګړي استازي
شماره تماس: 449 701 794 (0) 93+
ايميل: Kjeld.ANDERSEN@ext.eeas.europa.eu